**سید جمال الدین افغاني پوهنتون**

**کمپیوټرساینس پوهنځی**

**سافټویر انجینرینګ څانګه**

# د سیدجمال الدین افغاني پوهنتون پر زده کړه یز سیستم باندې د ChatGPT اغېزې


څېړونکي:

وقارالله رحمت زی

عمر اخندازه


Ketabton.com

دغه پایلیک د کمپیوټر ساینس د لېسانس سند د غوښتنو د پوره کولو په موخه وسپارل شو.

لارښود استاد: پوهنیار ذاکرالله عزام

کال: ۱۴۰۴هـ. ش /۱۴۴۷ هـ. ق

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Sayed Jamaluddin Afghani University**

**Faculty of Computer Science**

**Department of Software Engineering**

# The Impact of ChatGPT on the Learning System at Sayed Jamaluddin Afghani University

**By**

**Weqarullah Rahmatzai**

**Omar Akhundzada**

**Supervisor: Teacher Assistant Zakirullah Ezam**

**Year: 2025 AD**

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ژمنلیک

مونږ تائیدو چې دا مونوگراف ( د سیدجمال الدین افغاني پوهنتون پر زده کړه یز سیستم باندې د ChatGPT اغېزې ) پرته له ورکړل شویو اخځلیکونو زمونږ د مطالعې پایله ده او له هر ډول علمي او ادبي سرقت څخه پاک دی.

درنښت

| | |
|---|---|
| ۱. محصل نوم: | وقار الله (رحمت زی) |
| لاسلیک: | (..................................) |
| ۲. محصل نوم: | عمر (اخندزاده) |
| لاسلیک: | (..................................) |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مننلیک

دا چې موږ څلور کلنه د لیسانس دوره پای ته ورسوله او په دغه دوره کې د زیات شمیر ستونزو سره مخ شو، خو د لوی خدای (ج) شکر گزار یو چې موږ ته یې حوصله، صبر، زغم او تر دې ځایه د را رسېدو وړتیا راوبخښله، تر څو د لیسانس دوره سرته ورسوو او د پوهنځي د اداري لخوا په راسپارل شوې موضوع کې څېړنه ( Research ) او د هغه څخه دفاع ترسره کړو.

تر څنگ یې د کورنۍ ،خپلوانو څخه مننه کوو چې ددې څلور کلنې دورې پرمهال یې مالي او ځاني ملاتړ را سره وکړ، د کمپیوټر ساینس پوهنځي د ټولو استادانو څخه مننه کوو چې په دغه څلورکلنه دوره کې یې زموږ هرې پوښتنې ته په ورین تندي ځواب ویلی دی. د الله تعالی له دربار څخه ورته د ژوند په ټولو چارو کې د بریالیتوب غوښتونکي یو. او همدارنگه د لارښود استاد پوهنیار ذاکرالله «عزام» څخه یوه نړۍ مننه چې ددغې څېړنې په ترسره کولو یې پوهه کړو، دالله تعالی له درباره ورته د ژوند په ټولو چارو کې د بریالیتوب غوښتونکي یو.

درنښت

(c) ketabton.com: The Digital Library

**تایید پاڼه**

زه تاییدوم چې ما دغه مونوگراف ولوست او زما له نظره د لېسانس سند د ترلاسه کولو لپاره کافي دی.

درنښت

د لارښود استاد نوم: پوهنیار ذاکرالله "عزام"

لاسلیک:

د ثبت گڼه او نیټه: / ۱۴۰۴/

د څانگې آمر: پوهنیار عبدالباري "رودوال"

لاسلیک:

د ثبت گڼه او نیټه: / ۱۴۰۴/

د پوهنځي رئیس: پوهنیار ذاکر الله "عزام"

لاسلیک:

د ثبت گڼه او نیټه: / ۱۴۰۴/

د علمي څېړنو او مجلې معاونیت: پوهندوی دوکتور سیداصغر "هاشمي"

لاسلیک:

د ثبت گڼه او نیټه: / ۱۴۰۴/

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ډالۍ

خپلو محترمو والدینو ګران پلارجان او مورجانې ته چې زموږ د تعلیم او تربیې په برخه کې یې نه ستړې کیدونکې هلې ځلې او کوښښونه کړي دي. د پوهنځي محترمې ادارې او د قدر وړ استادانو او په خاص ډول خپل لارښود استاد ته چې له برکته یې مونږ وکولای شول دغه څېړنه ترسره کړو او هر هغه چاته دې دا پایلیک ډالۍ وي، چې په مالي او روحي بڼه یې زموږ ملاتړ کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لنډیز (Abstract)

دا څېړنه د سید جمال‌الدین افغاني پوهنتون د زده‌کړیز سیستم پر بهیر د مصنوعي ځیرکتیا (AI) د یوې مهمې عصرـي وسـيلې، ChatGPT، اغېزې ارزولي دي.څېړنهکې هڅه شـوې ده چې د محصـلینو، اسـتادانو او متخصـصـینو له تجربو، لیدلورو او نظرونو څخه په اسـتفادې دا واضـحه کړي چې دا نوې ټیکنالوژي د تعلیم کیفیت، تدریسي ــ میتودونو، فکري ځواک، او خلاقیت پر ارتقا څه ډول اغېز لري. ChatGPT د مصـنوعي ذکاوت یو ژبنی ماډل دی چې د طبیعي ژبې له لارې د معلوماتو چمتو کولو، نظري تفسـیر، او انفرادي روزنې لپاره کارېږي. خو دا پوښـتنه چې دا وسـیله باید د تدریس او زده‌کړې رسمي برخه وګرځي، که یوازې یوه مرستندویه سرچینه پاتې شي، تر اوسه لا بحث ته اړتیا لري.

دا څېړنه د کیمي تحلیل پر بنســټ ولاړه ده، چې د پوهنتون له بېلابېلو پوهنځیو څخه د محصـلینو او ا ستادانو پو ښتنلیکونه ځواب شوي دي، احـصایوي تحلیل پرې شوی، او عملي م شاهداتو ولاړ علمي ا ستنتاج یې وړاندې کړی دی. د پو ښتنلیکونو پایلې ښایي چې تر ډېره ChatGPT د پوهنتون په تعلیمي فضا کې پوره پېژندل شوی او ګڼ شمېر محصلین‌یې په فعاله توګه کاروي.

خو څېړنه پر دې هم ټینګار کوي چې دا وسـیله یوازې هغه وخت اغېزمنه تمامېدلای شي، چې د فکر کولو له پرو سې سره مر ستندویه وکارول شي، نه دا چې د ان ساني پوهاوي، تحلیل یا انتقادي تفکر ځای ونیسي ــ د مطالعې له مخې، که چېرې له ChatGPT څخه بې‌حده تکیه وشي، نو دا خطر شـته چې د زده‌کوونکو ذهني خپلواکي، تخلیقي پوهه، او علمي صـداقت زیانمن شي. د همدې لپاره، دغه څېړنه د دې ډول وسـایلو لپاره د علمي ادارو له‌خوا د مشـخصـو، روښو او مسـؤولانه پالیسـیو جوړول یو بنسـټیز ضرورت بولي.

پایلې دا هم ښـایي چې د ChatGPT کارونه کولی شي د تدریس چاپېریال بدل کړي زده‌کوونکي چټک فیدبک تر لاسه کوي، درسي مواد شخصي کېږي، د ا ستادانو وخت سپمېږي، او د معلوماتو له محدود چاپېریاله د خلاص لاسرسي فرصـــت برابرېږي. خو دا ګټه هغه وخت دایمي اغېزه لري، چې د اخلاقي چوکاټ، فکري روزنې او علمي لارښـوونو په موجودیت کې ترسره شي. څېړنه ښـيي چې د اسـتادانو او محصـلینو یو لوی اکثریت باور لري چې دا وسـیله د تدریسي ــ بهیر کیفیت لوړوي، خو د خطرونو د کمولو لپاره باید د تدریس دودیز اصـول سره مل وکارول شي، نه دا چې هر څه د ټکنالوژۍ ذکاوت ته وسپارل شي.

**کلیدي کلمې:**ChatGPT ، ،زده کړه یز سیستم ،اغیزي،پوهنتون.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عنوان مخ

## لومړی څپرکی


۱.۱ پېژندنه ........ 1
۲.۱ د څېړنې ستونزه ........ 1
۳.۱ د څېړنې ارزښت ........ 2
۴.۱ د څېړنې موخې ........ 2
۵.۱ د څېړنې پوښتنې ........ 2


## دویم څپرکی


۱.۲ تېرو لیکنو ته کتنه (Literature Review) ........ 3
۲.۲ د زده کړو پر کیفیت باندې د ChatGPT اغیزې ........ 3
۲.۳ د زده کړې ملاتړ ........ 3
۴،۲ عصري تدریس ........ 3
۲.5 د محصلینو پر زده‌کړې باندې د ChatGPT مثبتو او منفي اغېزو تحلیل ........ 3
۲.۷ ChatGPT د زده‌کړې کیفیت ښه کوي او که زیان ورته رسوي ........ 4
۲.۸ دزده کړو په برخه کې د ChatGPT اغېزې څه دي ........ 4
۲.۹ د ChatGPT پواسطه زده کړو ته داستادانو او محصلینو هڅونه ........ 5
۲.۱۰ پر زده‌کړو باندې د ChatGPT اغېزې: ننګونې او فرصتونه ........ 5
۲.۱۱ د ChatGPT اغېزې زده‌کوونکو د علمي لیکلو مهارتونو باندې ........ 5
۲.۱۲ په لوړو زده‌کړو کې د ChatGPT اغېزې ........ 6
۱۳.۲ ChatGPT په صنف کې ........ 6

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲.۱۳ د تدریس او زده کړې په برخه کې د( ChatGPT ) کارول: فرصتونه او چیلنجونه ............. 7
۲.۱۴ د ChatGPT اغېزې په ذهن او حافظه باندې ........................................................... 7

## دریم څپرکی

۱.۳ د څېړنې تګلاره (Research Methodology)............................................................ 8
۲.۳ د څېړنې د تګلارې پېژندنه ........................................................................... 8
۳.۳ د معلوماتو راټولول ...................................................................................... 9
۴.۳ د ځوابونو تحلیل ........................................................................................10
۵.۲ لنډیز .......................................................................................................10

## څلورم څپرکی

**مونډنې ........................................................................................... 11**
۱.۴ پېژندنه.......................................................................................................11
۲,۴ د محصلینو برخه .........................................................................................11
۳,۴ د استادانو د پوښتنلیک برخه:..........................................................................21

## پنځم څپرکی

مناقشه (Conclusion) ........................................................................................36

## شپږم څپرکی

**نتیجه ګیري ...........................................................................................38**
**وړاندیزونه .............................................................................................39**
**ماخذونه ...............................................................................................40**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د شکلونو لړ لیک


| عنوان | مخ |
|---|---|
| (۱.۴) شکل: د ۱ پوښتنې تحلیلي چاټ | 11 |
| (۲.۴) شکل: د ۲ پوښتنې تحلیلي چاټ | 12 |
| (۳.۴) شکل: د ۳ پوښتنې تحلیلي چاټ | 12 |
| (۴.۴) شکل: د ۴ پوښتنې تحلیلي چاټ | 14 |
| (۵.۴) شکل: د ۵ پوښتنې تحلیلي چاټ | 15 |
| (۶.۴) شکل:د ۶ پوښتنې تحلیلي چاټ | 15 |
| (۷.۴) شکل: د ۷ پوښتنې تحلیلي چاټ | 16 |
| (۸.۴) شکل: د ۸ پوښتنې تحلیلي چاټ | 16 |
| (۹.۴) شکل: د ۹ پوښتنې تحلیلي چاټ | 17 |
| (۱۰.۴) شکل:د ۱۰ پوښتنې تحلیلي چاټ | 17 |
| (۱۲.۴) شکل:د ۱۲ پوښتنې تحلیلي چاټ | 19 |
| (۱۳.۴) شکل:د ۱۳ پوښتنې تحلیلي چاټ | 19 |
| (۱۴.۴) شکل: د۱۴ پوښتنې تحلیلي چاټ | 20 |
| (۱.۴) شکل: د ۱ پوښتنې تحلیلي چاټ | 21 |
| (۲.۴) شکل:د ۲ پوښتنې تحلیلي چاټ | 22 |
| (۳.۴) شکل: د ۳ پوښتنې تحلیلي چاټ | 23 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۴.۴) شکل: د ۴ پوښتنې تحلیلي چاټ ........................................................................ 24

(۵.۴) شکل: د ۵ پوښتنې تحلیلي چاټ ........................................................................ 25

(٦.۴) شکل:د ٦ پوښتنې تحلیلي چاټ ........................................................................ 26

(۷.۴) شکل:د ۷ پوښتنې تحلیلي چاټ ........................................................................ 26

(۸.۴) شکل: د ۸ پوښتنې تحلیلي چاټ ........................................................................ 27

(۹.۴) شکل:د ۹ پوښتنې تحلیلي چاټ ........................................................................ 28

(۱۰.۴) شکل: د ۱۰ پوښتنې تحلیلي چاټ ........................................................................ 29

(۱۱.۴) شکل: د ۱۱ پوښتنې تحلیلي چاټ ........................................................................ 30

(۱۲.۴) شکل: د ۱۲ پوښتنې تحلیلي چاټ ........................................................................ 31

(۱۳.۴) شکل: د ۱۳ پوښتنې تحلیلي چاټ ........................................................................ 32

(۱۴.۴) شکل: د ۱۴ پوښتنې تحلیلي چاټ ........................................................................ 33

(۱۵.۴) شکل: د ۱۵ پوښتنې تحلیلي چاټ ........................................................................ 34

د جدولونو لړ لیک

(۱,۴) اول جدول ........................................................................ 34

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی څپرکی

## ۱.۱ پېژندنه

مصنوعي ذکاوت چې د کمپيوټر ساينس پوهنځي مهمو څانګو څخه دی. نوموړې ټکنالوژی ورځ په ورځ پرمختګ وکړ نو په ۲۰۱۵ م کال کي دنړۍ دوه مشهورو اشخاصو هر يو ايلان ماسک او سام آلتمن د داسې ځيرک سيسټم د رامنځته کولو نظريه درلوده چي دانسان په څير حافظه ولري نو د اوو (۷) کلونو په تيريدو سره يې داسې ځيرک سيسټم جوړ کړ چي دټکنالوژي په برخه کي يې يو لوی انقلاب رامنځته کړ. دوی په خپله هڅه کې کامياب شو او د ChatGPT په نوم اپليکشن يې جوړ کړ. ChatGPT چې د (Open AI) کمپنۍ لخوا جوړ شوی دی اوس ددې کمپنۍ آجرايوي ريس سام آلتمن وټاکل شو. په دې وروستيو کلونو کې مصنوعي ذکاوت د زده کړې په برخه کې لوې بدلونونه رامنځته کړي دي ChatGPT چې د ژبې ماډل پر بنسټ جوړ شوی، د زده کوونکو، ښوونکو او څېړونکو لپاره د زده کړې يو مهمه و سيله ګرځېدلې ده .دا و سيله د معلوماتو چمتو کولو، ستونزو حلولو، نظرياتو روښانه کولو او د زده کړې موادو ساده کولو کې مرسته کوي.(*Open AI*)

په کونړولايت، په ځانګړې توګه په سيدجمال الدين افغاني پوهنتون کې، چې د تعليمي منابعو محدوديتونه لري، ChatGPT کولی شي د زده کړو لاسرسي ته وده ورکړي، خو د دې ټکنالوژۍ اغېزې لا هم په بشپړ ډول نه دي څېړل شوي،دا څېړنه به وښايي چې ChatGPT د زده کړې پر کيفيت، زده کوونکو د فکر کولو مهارتونو، او د معلوماتو د درک پر بهير څه اغېزې لري.

## ۲.۱ د څېړنې ستونزه

ChatGPT د پراخه کارونې سره اړينه ده چې ددې ټکنالوژۍ اغيزې پر زده کړو باندي ښه وڅېړل شي.

په سيدجمال الدين افغاني پوهنتون کې، زده کوونکي له ګڼو ستونزو سره مخ دي، لکه د کيفيت لرونکو درسي موادو محدوديت، او د زده کړې دوديزې طريقې ، دا څېړنه به وښايي چې آيا ChatGPT د دې ستونزو لپاره يوه مناسبه حل لاره ده او که نه.

دا څېړنه به د زده کوونکو، او د تعليمي ادارو له نظره د ChatGPT د اغېزو څېړنه وکړي، څو معلومه شي چې دا وسيله څنګه د زده کړې پر بهير اغېزي لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۳.۱ د څېړنې ارزښت

دا څېړنه د لاندې دلایلو له امله مهمه ده:

1. د زده کړې اغېزمنتیا ته وده ورکول

په دې څېړنه کې به رو ښانه شي چې آیا ChatGPT د زده کوونکو لپاره یو اغېزمنه زده کړه ییزه و سیله ده؟

2. د نوې ټکنالوژۍ او زده کړې ترمنځ همغږي

دا څېړنه به ښـوونکو، زده کوونکو، او تعلیمي متخصـصـینو ته معلومات ورکړي چې څنګه کولی شي ChatGPT د زده کړې بهیر ته مؤثره بڼه ورکړي.

ددې څېړنې ار ښت دا دی چې د ChatGPT د زده کړې پر بهیر د اغېزو ارزونه وکړي او د دې و سیلې احتمالي ګټې او زیانونهبه روښـانه کړي، څو زده کوونکي، ښـوونکي، او د تعلیمي سـیسـتم نور اړخونه وکولی شي د دې ټکنالوژۍ څخه په سمه توګه ګټه پورته کړي.

## ۴.۱ د څېړنې موخې

دا څېړنه د لاندې موخو لپاره ترسره کېږي:

1. د دې تحلیل چې ChatGPT کولی شي د سیدجمال الدین افغاني پوهنتون د تعلیمي ستونزو لپاره یوه مناسبه حل لاره وي.
2. د ChatGPT د اغېزو ارزونه د زده کوونکو د زده کړې پر کیفیت او پوهې پراخوالي باندې.
3. د ChatGPT د زده کړې پر بهیر د اغېزو په اړه د زده کوونکو، ښوونکو، او د تعلیمي متخصصینو نظرونه راټولول .

## ۵.۱ د څېړنې پوښتنې

د پورته موخو د ترلاسه کولو لپاره مو لاندې ذکر شویو پوښتنو څخه ګټه پورته کړې ده.

1. آیا د سـیدجمال الدین افغاني پوهنتون په تعلیمي چاپېریال کې ChatGPT د دودیزو تدریسي-میتودونو مؤثر بدیل یا تکمیلي وسیله کېدلی شي؟

- آیا ChatGPT د زده کوونکو د زده کړې کیفیت ته وده ورکوي؟
- د ChatGPT د کاروني په اړه د زده کونکو،ښونکو او تعلیمي اداراتو نظر څنګه دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دويم څپرکی

## ۱.۲ تېرو ليکنو ته کتنه (Literature Review)

په دې څپرکي کې د موضوع اړوند تېرو څېړنو ته په پراخه توګه کتنه شوې چې ټول هغه نړیوال او معتبر کتابونه ، ژورنالونه، مقالې او انټرنیټي ســـایټونه ترمطالعې لاندې نیول شـــوي دي، له غوره او معتبرو کتابونو، ژورنالونو، څېړنیزو لیکنو ، راپورونو او ویب سایټونو څخه استفاده کړې ده.

## ۲,۲ د زده کړو پر کیفیت باندې د ChatGPT اغیزې

ChatGPT محصـلینوته چټک لاسرسـی برابروي، د هغوي پوښـتنو ته ځواب ورکوي، او د معلوماتو پراخولو کې ورسره مرسـته کوي دا وسـیله محصـلینو ته چمتو شـوي معلومات وړاندې کوي، خو دا لا روښانه نه ده چې آیا محصلین یې د زده کړې لپاره د یوې تقویې وسیلې په توګه کاروي، یا یوازې پرې تکیه کوي(*Brown et al., 2023*).

## ۲.۳ د زده کړې ملاتړ

ChatGPT کولی شي محصلینو سره د ژبپوهنې، ساینسي مضامینو او تخنیکي مهارتونو په برخه کې مرسته وکړي دا وسیله زده کوونکو ته ژر او شخصي ځوابونه ورکوي (*Aljanabi et al., 2023*) .

## ۴,۲ عصري تدریس

استادان هم کولی شي د ChatGPT په مرسته تدریس کې نوې لارې غوره کړي او زده کوونکو ته له دودیزو درسي کتابونو پرته نوې، فعاله او متقابلې زده کړې زمینه برابره کړي(*Dwivedi et al.,* 2023) .

## ۵,۲ د محصلینو پر زده‌کړې باندې د ChatGPT مثبتو او منفي اغېزو تحلیل

څېړنه ښيي چې ChatGPT کولی شي زده‌کوونکو ته ګټور معلومات، تشریحات، او د نظر جوړونې امکانات برابر کړي، چې دا هر څه د علمي پرمختګ لپاره مثبت اغېز لري. خو له بلې خوا، ځینې منفي اړخونه هم لري، لکه د ناســـم یا نیمګړي معلوماتو وړاندې کول، پر مصـــنوعي ځیرکتیا د زیاته تکیې له امله د فکر کولو مهارتونو کمزوري کېدل، او د زده‌کړې پر عادلانه ارزونه منفي اغېز.

کله چې ChatGPT او YouTube ترمنځ پرتله و شوه، ډېری زده‌کوونکو YouTube غوره وباله، ځکه چې له ویډیو څخه د معلوماتو ترلاســه کول اســانه ګني. نو له دې ټولو موندنو څخه دا پایله اخیســتلای شــو چې ChatGPT هم مثبتې او هم منفي اغېزې لري. دا وســیله باید له نورو تعلیمي وســایلو سره د مرستې په توګه وکارول شي، نه د بشپړې تکیې لپاره (*Pawar, Salve, & Patil,* 2023).

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۶,۲ د زده کړو په برخه کې ChatGPT د پلې کولو اغېزې

په زده کړو کې د ChatGPT کارونه د يوې نوښتګرې او هيله بښوونکې وسيلې په توګه راڅرګنده شوې چې موخه يې د زده‌کړې تجربه پياوړې کول او د محصلينو او استادانو ترمنځ متقابل تعامل زياتول دي.څومره چې د دې وسيلې امکانات څېړل کېږي او ښه درک کېږي، همغومره يې د ښوونې او زده‌کړې د طريقو د بدلون لپاره ژور ظرفيت څرګندېږي. که دا ټکنالوژي په اخلاقي توګه تطبيق شي او سم نظارت يې وشي، نو نوې تعليمي دروازې به پرانېزي اود ښوونې او زده‌کړې بهير به لا غني کړي.

. *(Montenegro-Rueda, Fernández-Cerero, Fernández-Batanero, & López-Meneses*, , 2023)

## ۷,۲ ChatGPT د زده‌کړې کيفيت ښه کوي او که زيان ورته رسوي

دا څېړنه د ChatGPT اغېزې د کاستا ريکا په تعليمي نظام کې وارزولې، او د هغې ګټې يې ارزولې دي. ترلاسه شوې پايلې ښيي چې دا ټکنالوژي د زده‌کوونکو فعال ګډون هڅوي، او هم‌مهاله د يو بل سره د زده‌کوونکو همکاري يا ګډ کار ته زمينه برابروي.

خو له دې سره، څېړنه يو شمېر مهمې ننګونې او اندېښنې هم رابرسېره کړې دي. د مسؤلانه کارونې اړتيا په ګوته شوې، ترڅو د ټکنالوژۍ له حده زياته تکيه مخنيوى وشي، او پر ځاى يې د زده‌کوونکو د انتقادي تفکر او ستونزو د حل کولو وړتيا ته وده ورکړل شي-(*Méndez-Domínguez, Bolaños-Moraga, & Vargas-Quesada, 2024*).

### ۸,۲ دزده کړو په برخه کې د ChatGPT اغېزې څه دي

د دې بياکتنې موندنې غوښتنه کوي چې ښوونځي او پوهنتونونه بايد سمدستي اقدام وکړي ترڅو خپلې لارښوونې او پاليسۍ د اکاډميک صداقت او د سرقت کلمې د مخنيوي لپاره نوي کړي. برسېره پر دې، ښوونکي بايد د ChatGPT د اغېزمنې کارونې او د زده کوونکو د سرقت کلمې کشف کولو په اړه روزنه ترلاسه کړي. زده کوونکي هم بايد د ChatGPT د کارونې او محدوديتونو په اړه زده کړه وکړي او د هغې احتمالي اغېزې په اکاډميک صداقت باندې پوه شي(2023). *Zhai, X*. .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۹,۲ د ChatGPT پواسطه زده کړو ته داستادانو او محصلینو هڅونه

ChatGPT عمومًا محصلین هڅوي چې د لوستلو او لیکلو مهارتونه ته پرمختګ ورکړي. خو ګډونوال د ChatGPT پر تاثیر د اوربدلو او خبرې کولو مهارتونو باندې منځني نظرونه درلود. څېړنه دې ته رسېدلې چې د ChatGPT پر بنسټ تدریس هڅونکی دی او باید د زده کړې وسیله وکارول شي، نه دا چې د دې منفي اغېزو څخه ویره ولرو. څېړنه دا هم وړاندیز کوي چې نورې څېړنې ترسره شي ترڅو د ChatGPT نورو ګټو ته ځیر شو او د دې منفي تاثیرات روښانه کړو.

*Ali, J. K. M., Shamsan, M. A. A., Hezam, T. A., & Mohammed, A. A. Q. (2023).*

## ۱۰,۲ پر زده‌کړو باندې د ChatGPT اغېزې: ننګونې او فرصتونه

دغه څېړنیزه مقاله د ChatGPT پر زده‌کړه باندې اغېز څېړي، او دا بیانوي چې څنګه دا وسیله کولی شي اداري چارې اتومات کړي، پر وخت نظریات وړاندې کړي، او زده‌کړه شخصي کړي. همداراز، پدې مقاله کې د مصنوعي ځیرکتیا کارولو ننګونې او فرصتونه تر بحث لاندې نیول کېږي، او یو لړ وړاندیزونه وړاندې کېږي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې ChatGPT پرته له دې چې د زده‌کړې کیفیت ته زیان ورسوي، په مؤثره توګه وکارول شي. که څه هم ChatGPT ChatGPTاو مصنوعي ذکاوت د زده‌کړې د بدلون وړتیا لري، خو ځینې احتمالي ننګونې هم شته چې باید حل شي. له دې وړاندې چې مصنوعي ځیرکتیا او ChatGPT په پراخه کچه د ښوونیز سیستم برخه وګرځي، اړینه ده چې د دوی ممکنه ګټې او زیانونه په پوره ډول وڅېړل شي.

*Zayoud, M., Oueida, S., Awad, P., & Ionescu, S.* (2023).

## ۱۱,۲ د ChatGPT اغېزې زده‌کوونکو د علمي لیکلو مهارتونو باندې

د معلوماتو راټولونه د لوړو زده‌کړو کچې د ESL زده‌کوونکو څخه د دریو ازموینو او دریو ډلې-بحثونو (Focus Group Discussions) له لارې ترسره شول. د څېړنې پایلې ښیي چې ChatGPT د زده‌کوونکو د علمي لیکلو پر مهارتونو یو مهم او مثبت اغېز لري، او د زده‌کوونکو نظرونه هم په پراخه کچه مثبت ول. یاده څېړنه د نظریاتو د ورکولو د نظریې ملاتړ او پراخوالی تضمینوي، او ChatGPT د یوه باور وړ لیکلو وسیله معرفي کوي چې عملي ارزښت لري.*Mahapatra, S. (2024).* .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱۲,۲ په لوړو زده‌کړو کې د ChatGPT اغېزې

ماډلونه لکه ChatGPT کولی شي د محصـلینو سره مرسـته وکړي تر څو د دوی د زده‌کړې ځواکونه او کمزورتیاوې وپېژني او همداراز د هغو ستونزو ته ځواب ووایي چې دوی یې د خپلو مطالعاتو په جریان کې لري. خو د اختراعاتو لکه ChatGPT کارول ځینې اخلاقي، قانوني او امنیتي سـتونزې راولاړوي، لکه دا چې د محصلینو محرمیت خوندي کول او د دې وسایلو ناوړه کارونه باید مخنیوی وشي.

د ChatGPT په ګټو باندې د محصلینو نظرونه بیلابیل دي، چې د امتحانونو پر مهال مرستې، د کارونې آسانتیا، د دندو د ترسره کولو اغیزمنتیا او د معلوماتو ترلاسه کولو اغیزمنتیا پکې شامل دي.

*Tick, A., Toktosunova, A., Fallah, H., Toutouchi, Z., & Tadzhibaeva*, Z. (2023).

## ۱۳.۲ ChatGPT په صنف کې

دا مطالعه د ChatGPT ، چې د مصنوعي ذکاوت پر بنسټ یو ژبنی ماډل دی، د فزیک کورس کې د زده کونکو په فعالیت باندې اغېزې څېړي. موږ د دوه ډلې زده کونکو سره یو تجربوي تحلیل ترسره کړ چې په یوه دوهم سمستر کې د انجنیرۍ فزیک کورس کې شامل وو. د کنټرول ډله) فزیک ۲ ۲۰۲۲ (B د دودیزو تدریسي۔ میتودونو څخه ګټه اخیستې وه، په داسې حال کې چې د تجربوي ډلې) فزیک ۲ ۲۰۲۳ (Aد زده کړې وسیلې په توګه ChatGPT مدغم کړی و. زموږ پایلې ښیي چې د ChatGPT کارول د زده کونکو په فعالیت کې د پام وړ کمښت ته لاره هواره کړه، لکه څنګه چې د کنټرول ډلې په پرتله د ټیټو نمرو او منفي Hake فکتورونو له لارې څرګند شو. برسېره پر دې، د زده کونکو یوه سروې د فزیک تدریس کې د ChatGPT د ګټو په اړه متضـاد نظریات څرګند کړل. که څه هم زیاتره زده کونکو د دې ګټې په اړه پوهه لرله او معلومات وړاندې کولو کې یې ګټوره بللې، خو د دې وړاندیز هم و چې دا ممکن د انتقادي تفکر او خپلواکې زده کړې د کموالي لامل شي. دغه موندنې ښـيي چې که څه هم ChatGPT یوه ګټوره وسـیله کیدای شي، خو باید په احتیاط سره وکارول شي او د دودیزو تدریسي میتودونو تکمیلي وسیلې په توګه وکارول شي، نه د یو خپلواکه حل په توګه.

. *Forero, M. G., & Herrera-Suárez, H. J.* (2023).

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱۳,۲ د تدریس او زده کړې په برخه کې د( ChatGPT ) کارول: فرصتونه او چیلنجونه

دغه مقاله هدف لري چې ښوونکو ته د ChatGPT مؤثر ا ستعمال په اړه ورک شاپ ورکړي، پدا سې حال کې چې هغه برخې هم روښانه کوي چې په کې د نورو څېړنو اړتیا ده تر څو د دې کارونې پورې تړلې ننګونې حل شي. په مجموع کې، ChatGPT په تدریس او د زده کوونکو زده کړو کې مهم بدلونونه راولي. له یوې خوا، دا ډیری ګټې وړاندې کوي لکه شخصي زده کړه، زیات شوی ګډون، او ژر ځوابونه. دا ځانګړتیاوې زده کوونکو سره مرسته کوي چې خپل انتقادي فکر ښه کړي او ستونزمن مفاهیم په ښه توګه درک کړي. د ښوونکو لپاره، ChatGPT د وخت سپما کوي لکه د درس پلان جوړول،محتوا جوړول ، پوهه پراخه کړي د نوي معلوماتو او علمي تمایلاتو ته ژر لاسرسی ورکوي. له دې امله، ChatGPT کولی شي تدریس او زده کړه ډیر مؤثره او ګټوره کړي. خو، ځینې ننګونې هم شتون لري. یوه اندیښنه دا ده چې زده کونکي کیدای شي ډیر پهChatGPT تکیه وکړي د ځوابونو لپاره، کوم چې ممکن د هغوی انتقادي فکر او ستونزې حل کولو مهارتونو ته زیان ورسوي. ځینې وختونه ChatGPT هم ناسم معلومات ورکوي، کوم چې د ګډوډۍ سبب کیدی شي. د ښوونکو لپاره، اصلي ننګونې د معلوماتو محرمیت خطرات دي او اړتیا ده چې دChatGPT په مؤثره توګه د تدریس په برخه کې د کارونې لپاره نورې روزنې ته اړتیا وي.

## ۱۴,۲ د ChatGPT اغېزې په ذهن او حافظه باندې


مصنوعي ذکاوت موډلونه لکه ChatGPT د تعلیم په ډګر کې لویه ونډه لري، ځکه چې دا د ښوونکو لپاره د شخصي- زده کړې ملاتړ اسانه کوي او زده کونکو ته د معلوماتو ترلاسه کولو آسانتیا ورکوي. خو، د مصنوعي ذکاوت سره زیات تعامل سره ځینې خطرونه هم موجود دي؛ خلک کیدای شي په مصنوعي ذکاوت باندې زیاته تکیه وکړي، چې دا د نقدي فکر کولو وړتیا یا د حافظې په ساتلو کې کموالی راولي. *(<u>2024</u>) Ren, L.* .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریم څپرکی

## ۱.۳ د څېړنې تګلاره (Research Methodology)

په دې څپرکي کې د څېړنې تګلاره توضیح شوې ده دپوهنتون داستادانواو د مختلفو پوهنځیو محصلینو څخه د معلوماتو راټولولو او تګلارې په اړه خبرې کیږي لکه څنګه چې دا یوه Quantative څېړنه ده او د ځواب ویونکو لخوا د ورکړل شوو ځوابونو توضیحاتو ته اړتیا لري، نو مورږد پوهنتون داستادانو او محصلینو څخه پوښتنې د(Google Form ) پواسطه کړې دي چې زموږ پوښتنو ته یې تفصیلي ځوابونه ورکړي دي کوم چې په راتلونکي څپرکي کې به وړاندې شي.




## ۲.۳ د څېړنې د تګلارې پېژندنه

تیرو لیکنو ته کتنه، د څیړنې پېژندنه، او هغه ستونزې چې څیړنه ورسره مخ شوي وه، د اړونده ادبیاتو هراړخیزه بیاکتنه ترسره کول دا به د څیړنې موضوع پورې اړوند مهم مسایل، مفکورې او طریقې په ګوته کړي. د څیړنې ډیزاین کیفي وو ، د څیړنې پوښتنو، موخو، او موجوده سرچینو پراساس .کیفي څیړنه کیدای شي مرکې، سروې یا متمرکزې ډلې شاملې کړي تر څو له اړونده ونډه اخیستونکو څخه نظرونه راټول کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ سروې او متمرکزې ډلې استادان او محصلين د لومړنيو معلوماتو راټولولو لپاره د اصلي ميتودونو په توګه کارولي دي او د موجوده ادبياتو بياکتنه د ثانوي معلوماتو راټولولو لپاره کړې ده .
زموږ اصـلي تمرکز د پوهنتون اسـتادانو او برحاله محصـلينو په نظرونو او ځوابونو وو کوم چې مونږ د پوښتنپاڼو له لارې لاسته راوړي دي.

## ۳.۳ د معلوماتو راټولول

موږ د ټاکل شـوي څېړنيز ډيزاين په کارولو سره معلومات راټول کړي دي. دا کولی شي ، سروې او د اړونده سرچينو لکه ډيټابيسونه او علمي ادبياتو څخه د معلوماتو تحليل شامل کړي.
د سروې لپاره، موږ به د خپلې څېړنې پوښــتنو مطابق په ګوګل فورم کې پوښــتنليک ډيزاين کړ، چې ديپوښتنليکونه پواسطه زموږ څېړنيزو پوښتنو ته ځوابونه ومونډل شو.
د سيد جمال الدين افغاني پوهنتون په زده کړه يز سيستم باندې دChatGPT د اغيزود عواملو د تحليل لپاره، موږ به د سروې ميتود کارولی. د خپلو څېړنيزو پوښــتنو مطابق، هغه څه چې موږ غواړو، بيا به د ټاکل شوي هدف لپاره سروې ډيزاين کړو، کوم چې موږ د پوهنتون استادان او محصلينو لپاره پوښتنپاڼه جوړه کړو تر څو د خپلو څېړنيزو پوښتنو ځوابونه او پايلې ومومو.
په ټوليز ډول زموږ د معلو ماتو راټولول په دوه لارو ترسره کيږي: يو لومړني معلو مات او بل ثانوي معلومات. د لومړني او ثانوي معلوماتو راټولول دلته وړاندې شوي دي:
**لومړني معلومات راټولول:** لومړني معلو مات هغه دي چې د ســيد جمال الدين افغاني پوهنتون د محصــلينو او اســتادانو څخه راټول شــوي دي.داچې مونږ د خپلې څېړنې لپاره د معلوماتو د راټولو په خاطر (Structuer Quesionaier) ترتيب کړو او د(Google Form) د لارې مو د دپوهنتون دبيلابيلو پوهنځيو او دپوهنتون داســتادانو سره شريکه کړې وه.دا چې(Google Form) خپله دتحليل لپاره ډيزاين (pie Chart) او (Bar Chart) ورکوي خو مونږ بيا هم د مختلفو سوالونو دځوابونو د تحليل لپاره د (SPSS/Excel) څخه استفاده کړې وه.
**ثانوي معلومات راټولول:** ثانوي معلومات راټولول د معلوماتو راټولولو بهير ته اشــاره کوي چې له موجودو سرچينو څخه راټول شـوي وي، نه د لومړني سرچينې څخه په مسـتقيمه توګه .د سـيد جمال الدين افغاني پوهنتون په زده کړه يز ســيســـتم باندې د ChatGPT اغيزې د عواملو تحليل په اړه، ثانوي معلومات راټولول د مختلفو سرچينو څخه معلومات راټول کړي دي. لکه علمي مجلې،نړيوال ژورنالونه .کله چې سرچينې پيژندل شـوي وي، معلومات راټول کيدی شي او د مختلفو تخنيکونو په کارولو سره تحليل کيدی شي، لکه د منځپانګې تحليل او احصايوي تحليل. د سيد جمال الدين افغاني پوهنتون په زده کړه يز سـيسـتم باندې د ChatGPT اغيزې د عواملو تحليل په اړه، سرچينې کېدای شي د متخصصينو علمي مقالې، عملي څېړنې او په دغه برخه کې وړاندې شوي راپورونه شاملې وي. دا سرچينې ممکن هغه تخنيکي سـتونزې وړاندې کړي د سـيد جمال الدين افغاني پوهنتون په زده کړه يز

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیستم باندي د ChatGPT اغیزي ورسره مخ شوي، او همدارنگه د دې ستونزو لپاره احتمالي حل لارې او غوره کړنې وړاندې کړي.

## ۴.۳ د ځوابونو تحلیل

سید جمال الدین افغاني پوهنتون په زده کړه یز سیستم باندي د ChatGPT اغیزې د عواملو تحلیل د سروې پوښتنلیکونو په کارولو سره د معلوماتو راټولولو لپاره ترسره کیږي. پوښتنلیک د دې وضعیت پراخه پوهه وړاندې کوي، د ChatGPT اغیزي، مخ ته تک ،او د مسایلو سپړنه کوي. د زیاتو ځواب ویونکو سروې کول د چمتو شوي ستونزو په اړه پراخه لید وړاندې کوي او د اغیزو پیژندلو کې مرسته کوي.

## ۵.۲ لنډیز

دریم څپرکې په سید جمال الدین افغاني پوهنتون په زده کړه یز سیستم باندي د ChatGPT اغیزي تحلیل لپاره کارول شوي میتودولوژي باندې تمرکز کوي. څېړنه کیفي ده او د لومرني معلوماتو د راټولولو لپاره د پوهنتون محصلینو او استادانو څخه د معلوماتو راټولول د پوښتنپاڼو پواسطه شوې، د ثانوي معلوماتو راټولولو لپاره تیرو لیکنو ته کتنه ترسره شوې ترڅو دڅیړنې لپاره په زده کړو باندې د ChatGPT اغیزې وڅیړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورم څپرکی


# موندنې

## ۱.۴ پیژندنه

په دې څپرکي کې به د پایلې ترڅنگ د آنلاین پو ښتنپاڼو د ځوابونو په اړه تحلیل او بحث وکړو لومړی پو ښتنپاڼې تحلیلو او بیا یې پایلې ښایو، د سیدجمال الدین افغاني پوهنتون باندې ChatGPT اغیزې د تحلیل په پایله کې د لومړني معلوماتو ترلا سه کولو او د پوهیدو لپاره آنلاین سروې ترسره شوي. چې د سیدجمال الدین افغاني پوهنتون ا ستادانو او دیبلابیلو پوهنځیو محصلینو زموږ پو ښتنپاڼو ته په ښکاره ډول ځوابونه ورکړي او مونږ ددغه ځوابونه په اړه بحث او په تفصیل سره تشریح کړي.

### ۲,۴ د محصلینو برخه

#### ۱.دعمر په اساس د محصلینو ویش





(۱.۴) شکل: د۱ پوښتنې تحلیلي چاټ

په لومړي گراف کي د ورکړل شـوو معلوماتو په اســاس څرگندیږي چي(٪۷۰,۷) ســلنه محصــلین د (۲۱ــــ۲۴) کلونو پوري عمرونه لري.هغه محصلین چي د(۱۸ـــ۲۰) کلونو پورې عمرونه لري په دوهمه درجه کي قرار لري چې دټولې نمونې (۱٦,۴) سلنه جوړوي پاتې دې نه وي چي (۱۲,۹) سلنه محصلین د (۲۵ـ۲۷) او کلنو پورې عمر لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۲. ChatGPT سره دپیژندنې په اساس د محصلینو ویش

د ورکړل شوو معلوماتو څخه څرګندیږي چې زده کوونکي ChatGPT پیژني. دلته د فیصدی تحلیل دی:





(۲.۴) شکل: د ۲ پوښتنې تحلیلي چارټ

د څیړنې په دې برخه کې هڅه شـوې ده چې دسـیدجمال الدین افغاني پوهنتون د بیلا بیلو پوهنځیو دلیسانس د محصلینو د ChatGPT سره د پیژندنې کچه وارزول شي.
په ګراف کې دورکړل شوو معلوماتو په ا ساس (۹۹،۲٪) محصلینو ویلي دي چې هغوی ChatGPTپیژني. دا فیصـدي د پوهنتون د چاپیریال لپاره خورا لوړه شـمیرل کیږي. پاتې دې نه وې (۰،۸٪) محصـلینو ویلي چې ChatGPT نه پیژني.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۳. د ChatGPT سره دمحصلينو بلدتيا.





(۳.۴) شکل: د۳ پوښتني تحليلي چاټ

موخه دا وه چې دا معلومه شي چې څومره محصــلين له ChatGPT څخه خبر دي، فعاله اســتفاده ترې کوي، او څومره يې لا هم تجربه نه لري.

په گراف کې د ورکړل شــوو معلوماتو په اســاس ډير بلد يم (٦٧,٢٪) ســلنه ښــاېي چې ChatGPT د محصلينو ترمنځ يوه فعاله زده‌کړيزه وسيله گرځېدلې. پاتې دې نه وي چې (٢٧,٦٪) محصلين بلد يم په کچه اشــنايي لري.کم بلد يم په گراف کې دمعلوماتو په اســاس (٦٪) محصــلينو تجربه محدوده ده.او همدارنگه هيڅ بلد نه يم اندازه (١,٧٪) محصلينو ډېره کمه فيصدي ښايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۴. په ورځني ژوند کې د ChatGPT کارونه.**





(۴.۴) شکل: د ۴ پوښتنې تحلیلي چاټ

په ګراف کې د ورکړل شوو معلوماتو په ا ساس (۴۴,۹٪) سلنه محصلین وايي چې ChatGPT کله چې اړتیا وي کاروم یې .او پاتې دې نه وي چې (۴۱,۴٪) سلنه محصلین وايي چې ChatGPT هره ورځ یې کاروم. (۱۱,۹٪) سلنه محصلین وايي چې څو ځله یې په اونۍ کې کاروم.خو یو شمیر محصلین وايي چې ChatGPT هیڅ یې نه کاروم چې (۱,۷٪) سلنه جوړوي.

احصایې ښیي چې له هر 10 محصلینو څخه تقریباً 9 یې دا وسیله لږ تر لږه وخت ناوخت کاروي

(c) ketabton.com: The Digital Library


### ۵. د ChatGPT کارونه په خپلو زده کړو کې.




(۵.۴) شکل: د ۵ پوښتنې تحليلي چاټ

په گراف کې د ورکړل شوو معلوماتو په اساس (۳۳,٦٪) سلنه محصلين وايي چې دوي د ChatGPTڅخه په لوړه کچه تري اســتفاده کوي او په خپله زده کړه کې يې مهمه برخه بولي او (۳۲,۸٪) ســلنه محصــلين وايي دوي ChatGPT 50% کچه کاروي او (۲۲,۴٪) سلنه محصلين وايي چې دوي ChatGPT 25% کاروي او محصلين په بشپړ ډول پر ChatGPT اتکا کوي. دا زده‌کوونکي ښايي خپل تعليمي ژوند په پراخه توگه د دې و سيلې سره تړلی وي او په ډيرو تعليمي فعاليتونو کې پرې تکيه کوي.

### ٦. ChatGPT د زده کړې مهمه وسيله





(٦.۴) شکل:د ٦ پوښتنې تحليلي چاټ

په گراف کې د ورکړل شوو معلوماتو په اساس (۴۳,۱٪) سلنه محصلين وايي چې دوي ChatGPT په راتلونکي کې د زده کړې لپاره مهمه وسيله بولي او (۳۵,۳٪) سلنه محصلين وايي دوي ChatGPT به په راتلونکي لپاره يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

حده مهمه وسیله بولي او (۲۰,۷٪) سلنه محصلین وایی چې دوي ChatGPT د راتلونکي لپاره یوه مهمه وسیله نه بولي.


### ۷. د زده کړې په برخه کې ChatGPT د ځوابونو ګټورتیا




(۷.۴) شکل: د ۷ پوښتنې تحلیلي چاټ

په ګراف کې د ورکړل شوو معلوماتو په اساس (۴٦,٦٪) سلنه محصلین په موافق دي او وایي چې ChatGPT ځوابونه د زده کړې په برخه کې ډیر ګټور بولي.د او (۳۹,۷٪) سلنه محصلین په کلکه موافق دي او وایي چې ChatGPT ځوابونه د زده کړې په برخه کې ګټور بولي .پاتې دي نه وي (۱۲,۹٪) سلنه محصلین لږ موافق دي او وایي چې ChatGPT ځوابونه د زده کړې په برخه کې ګټور نه بولي.خو یو شمیر (۰,۸٪) سلنه محصلین ددې نظر مخالف دي.

### ۸. ChatGPT به د دودیزه تدریسي میتود بدیل وګرځي؟





(۸.۴) شکل: د ۸ پوښتنې تحلیلي چاټ

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کلکله موافق يم چې(۲۲,۹٪) جوړوي او موافق يم (۴۷,۵٪) جوړوي د(۲۰,۳٪) محصــلينو "لږ موافق يم" نظر ورکړی دی د تحليل پر بنست محصلين (۹,۳٪) له دې نظر سره مخالف دي


**۹. د ChatGPT له لارې د زده کړې په بهير کې پرمختګ ګیرې.**




(۹.۴) شکل: د ۹ پوښتنې تحليلي چاټ

د تحليل پر بنسټ (۳۳,۹٪) د دې نظر سره پهکلکه موافق دي چې د ChatGPT له لارې به د زده کړې په بهير کې پرمختګ رامنځته شي. موافق يم (۴۷,۵٪) د دې نظر سره موافق دي چې د ChatGPT له لارې به د زده کړې په بهير کې پرمختګ رامنځته شي. لږ موافق يم (۱٦,۱٪) محصــلين لږ موافق دي، چې دا ښـيي دوی د ChatGPT د ګټو منلو ته چمتو دي. هيڅ موافق نه يم دتحليل پر بنســټ يواځې (۲,۵٪) محصلين دې نظريې سره مخالف دي.

**۱۰. د ChatGPT په واسطه زده کونکي خپلې ستونزې حل کولی شي.**





(۱۰.۴) شکل:د ۱۰ پوښتنې تحليلي چاټ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تحلیل پر بنسټ په کلکه موافق یم (۴۷,۴٪) سلنه جوړوي چي ډېر قوي مثبت دریځ ښایي. موافق یم (۴۴,۱٪) جوړوي چي دوي ورسره آشـــنا دي. (٦,٨٪) لږ موافق دي. یوازې (۰,۸٪) له دې نظر سره مخالف دي.


### د.۱۱ ChatGPT په واسطه زده کړې معیاري کول.




(۱۱.۴) شکل:د۱۱ پوښتنې تحلیلي چاټ

دتحلیل پر بنسټ (۴۷,۴٪) سلنه محصلین د ChatGPT په واسطه د زده کړې په معیاري کولو سره موافق دي او (۲٦,۷٪) سلنه محصلین لږ موافق دي او وایي چې د ChatGPT په واسطه زده کړې معیاري کولو کې له احتیاط څخه کار اخلي. خو (۱۸,۱٪) ســلنه محصـــلین په کلکه موافق دي او وایي چې ChatGPT زده کړه معیاري کوي او دا یو قوي او مثبت نظر ښایي او همدارنګه (۷,۸٪) سلنه محصلین هیڅ موافق نه دي.

### د.۱۲ ChatGPT پو اسطه د زده کړې په بهیر کې نوې لارې رامنځته کړې.




(c) ketabton.com: The Digital Library

(۱۲.۴) شکل:د ۱۲ پوښتنې تحلیلي چاټ

- د احصایوي تحلیل پر بنسټ (۵۳,۴٪) سلنه محصلین موافق دي او وایي چې ChatGPT به د زده کړې به بهير کي نورې نوې لارې به رامخته کړي چې دا يو قوي ثبوت ښـــايي او (۲٦,۷٪) ســـلنه محصـــلين په کلکه موافق دي او وايي چې ChatGPT به د زده کړې په بهير کې نورې نوې لارې رامنځته کړي او دا يو ډير قوي او باوري ثبوت ښـــايي او پاتې دې نه وي چې (١٦,۴٪) ســـلنه محصلين لږ موافق دي دوي د بدلون امکان مني خو د تجربې له پلوه پوره ډاډه نه دي خو (۳,۴٪) ســـلنه محصـــلين مخالف دي دا ښـــايي په ChatGPT باندي باور نلري يا دوديزو زده کړو ملاتړ کوي.

## ۱۳. د ChatGPT پواسطه د زده کړې په چاپيريال کي ډير بدلون راولي.




(۱۳.۴) شکل:د ۱۳ پوښتنې تحلیلي چاټ


- د تحليل پر بنســـټ (۳۴,۵٪) په کلکه موافق او (۴۷,۴٪) موافق دي چې دا خرګندوي چې ډيره لويه برخه زده کوونکي د مصـــنوعي ځيرکتيا ټکنالوژۍ اغېزې د ښـــوونې او زده کړې په چاپيريال کې محسوسې ګڼي.

- (۱۵,۵٪)يوازې لږ موافق دي، يعنې هغوی د بدلون پر امکان کې شـک لري يا په دې اړه لا زيات پوهېدلو ته اړتيا لري.

- يواځې (۲,۵٪) د دې نظر خلاف دي، چې ښـــيي ځينې زده کوونکي د ChatGPT په وســـيله د چاپيريال بدلون ته ډير مثبت نه ګوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۱۴. ChatGPT به د پوهنتون د زده کوونکو د راتلونکي مسلکي ژوند لپاره ګټور وي.




(۱۴.۴) شکل: د۱۴ پوښتنې تحلیلي چاټ

- په کلکه موافق (٪۲۹,۴) او موافق(٪۴٦,۲) جوړوي. چې ChatGPT به د زده‌کوونکي لپاره په مسلکي ژوند کې ګټور تمام شي

- (٪۲۰,۲)محصلین لږ موافق دي، چې ښيي دوی د دې وسیلې ارزښت ته پاملرنه لري، خو لا هم د اوږدمهاله اغېزو په اړه محتاط فکر لري.
- یواځې (٪۳,٦) 4.2% له دې نظریې سره مخالف دي،یعنې دا محصلین هیڅ موافق نه دي.


د دې پو ښتنې پایلې ښيي چې زیاتره محصلین باور لري چې ChatGPT کولی شي د هغوی مسلکي راتلونکې ته مثبت بدلون ورکړي. دا وسایل کولی شي د زده‌کړې، مسلکي اسنادو چمتو کولو، د دندو لپاره تیاری، پرزنتیشـــن جوړوني، ژبې زده‌کړې، کاري پرېکړو، او ابتکاري مفکورو رامنځته کولو کې مرســته وکړي. دا تمایل د مصـــنوعي ځیرکتیا د یو مهم تعلیمي او مســـلکي مرســـتیال په توګه پېژندل تاییدوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۳,۴ د استادانو د پوښتنليک برخه:

### ۱. د استادانو علمي رتبه معلومول.

د دې پو ښتنې هدف دا دی چې معلومه شي کوم ډول علمي رتبې لرونکي ا ستادان زموږ د ځېړنې برخه دي، څو موږ وکولای شو د دوی د تجربې، علمي مقام او نظرونو ترمنځ اړيکې پيدا کړو.




(۱.۴) شکل: د۱ پوښتنې تحليلي چاټ

د پوښــتنې له پايلو څخه ځرګندېږي چې د څېړنې ګډونوال د علمي رتبو له اړخه په نســبتاً متوازن ډول وېشل شوي، خو د ګډونوالو ترمنځ تر ټولو زيات شمېر استادان (۴۴,۴٪) د نامزد پوهنيار رتبه لري.


په دويم مقام کې پوهنيار اســتادان راځي (۳۸,۹٪)، چې د تدريسي ــ تجربي له مخې د منځنۍ کچې اســتادان ګڼل کېږي. دا برخه د څېړنې لپاره ارزښــتناکه ده، ځکه دا ډول اســتادان هم د تدريس او هم د څېړنې له تجربو سره بلدتيا لري. د دوی نظريات کولای شي د تدريسي ــ واقعيتونو او نوې ټکنالوژۍ ترمنځ مناسبه اړيکه روښانه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهنملان بیا یوازې (۱٦،۷٪) برخه جوړوي، چې که څه هم شمېر یې کم دي، خو دا ا ستادان عموماً د لوړې تجربې څښتنان وي او زیاتره وخت د تعلیمي پالیسۍ، کیفیت ارزونې او ستراتیژیکو پرېکړو په بهیر کې فعاله ونډه لري. د دوی نظریات کیدای شي د ټکنالوژۍ د اغېزو ارزولو لپاره ژور او له تجربو ډک لید وړاندې کړي. په پام کې نیولو سره، باید وواېو چې پوهندوی، پوهنوال او پوهاند رتبې لرونکي استادان د دې څېړنې برخه نه دي ګرځېدلي، چې دا کیدای شي د مصروفیت او یا دمحدودیت له وجهې د څېړنې په پوښتنپاڼه کې ګډون نه وي کړی.

### ۲. د ا ستادانو تحصیلي کچه معلومول.

د دې پوښتنې هدف دا دی چې معلومه شي استادانو تحصـلي کچه څومره ، څو موږ وکولای شـو د دوی د تحصیلي کچې اړیکې پیدا کړو.




(۲.۴) شکل:د ۲ پوښتنې تحلیلي چاټ

د څېړنې له پایلو څرګندیږي چې د استادانو اکثریت، یعنې(۵۵،٦٪) ماسټري تحصیلي کچه لري، پداسې حال کې چې (۴۴،۴٪) (8 تنه) لیسانس لري. د دوکتورا درجو لرونکي استادان په دې څېړنه کې شتون نلري.


په ټوله کې، د تحصیلي کچې دا توزیع د پوهنتون د او سني علمي و ضعیت ښه انځور وړاندې کوي او ښیي چې د ماسټري لرونکو استادانو کچه د تعلیمي او څېړنیزو اړتیاوو پوره کولو لپاره کافي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۳. په پوهنتون کې د تدریس کلنه تجربه لرئ.

د دې پوښتنې هدف دا دی چې معلومه شي استادان په پوهنتون کې دتدریس څو کلنه تجربه لري .

په پوهنتون کې د تدریس څو کلنه تجربه لرئ.




(۳.۴) شکل: د ۳ پوښتنې تحلیلي چاټ


د استادانو د تدریسي-تجربې وېش ښيي چې تر نیمايي زیات استادان (۴۴,۴٪) د ۱ څخه تر ۳ کلونو پورې تدریسي– تجربه لري.چې دا د پوهنتون د نوو استادانو ښکارندويي کوي. په داسې حال کې (۳۳,۳٪) استادان د ۴ تر ٦ کلونو پورې تجربه لري. او (١٦,٧٪) استادان د ۷ تر ۱۰ کلونو پورې تدریسي سابقه لري. او یوازې (۵,٦٪) استادانو تجربه تر ۱۰ کلونو زیاته ده.

دا و ضعیت څرګندوي چې د پوهنتون د ښوونکو اکثریت د نسبتاً لنډې مودې تجربه لري، چې کیدای شي د پوهنتون د تدریسي– څواک د نوي والي او ځوانوالي نښه وي. له بلې خوا، د اوږدې تجربې لرونکو استادانو کمه برخه ښايي د پوهنتون په علمي ودې کې یوه ننګونه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۴. ChatGPTپېژندل داستادانو له نظره.

د دې پوښتنې هدف دا دی چې معلومه شي استادان ChatGPT پېژني.




(۴.۴) شکل: د ۴ پوښتنې تحلیلي چاټ


د څېړنې له مخې، ټولو ګډونوالو اســتادانو (٪۱۰۰) ویلي چې دوی د ChatGPT په اړه پوهېږي او دغه ټیکنالوژي پېژني. دا ښــیي چې ChatGPT په پوهنتون کې د اســتادانو ترمنځ یو پیژندل شــوې او عام شوې وسیله ده، چې د ښوونې او روزنې په برخه کې یې حضور جدي دی. او د استادانو (٪۱۰۰)پوهاوی د ChatGPT په اړه، د پوهنتون د علمي پرمختګ لپاره یوه بنســټیزه نقطه ده. دا ښــیي چې د تدریس بهیر لپاره نوی فکر، نوښت، او د مصنوعي ذکاوت تطبیق ته پراخ فرصتونه شته. دا وضعیت د معاصرې زده کړې لپاره قوي بنسټ جوړوي.

## ۵. ChatGPT سره داستادانو بلد یت.

د دې پوښتنې هدف دا دی چې معلومه شي استادان ChatGPT سره بلد دي.

تاسو څومره د ChatGPT سره بلد یاست؟

(c) ketabton.com: The Digital Library





(۵.۴) شکل: د ۵ پوښتنې تحليلي چاټ

د اســتادانو نيمايي برخه (۵۰٪)ځان ډېر بلد ګڼي، چې دا د ChatGPT د ټيکنالوژۍ په پوهه کې د لوړ کچې ښــکارندويي کوي. (۴۴,۴٪)اســتادان ځان بلد ګڼي، چې د ښــه پوهې ځرګندونه کوي. يوازې (۵,٦٪) استادان ځان کم بلد بولي، او هېڅ يو استاد د دې ټيکنالوژۍ په اړه بې خبره يا هيڅ بلد نه دی.

دغه معلومات ځرګندوي چې د پوهنتون اســتادانو په عمومي توګه د ChatGPT ټيکنالوژۍ سره ښــه آشــنايي لري، چې دا د تعليمي بهير د عصرـي کولو لپاره يو مثبت ټکی ګڼل کېږي. اســتادانو ته د دې وســيلې ښــه بلديت امکان ورکوي چې د زده کوونکو لپاره د نوښــت او تخليقي تدريس لارې چارې رامنځته کړي.

### ۵.٦ تدريس په بهير کې د ChatGPT دکارولو اندازه.

د دې پوښتنې هدف دا دی چې معلومه شي استادان ChatGPT خومره دتدريس په بهير کې کاروي.




(c) ketabton.com: The Digital Library

(۶.۴) شکل :د ۶ پوښتنې تحلیلي چاټ

هره ورځ یې کاروم (۵۰٪) جوړوي چې دا تر ټولو لویه کچه ده. خوځله یې په اونۍ کې کاروم (۳۳,۳٪) جوړوي چې دا دې ټکنالوژی ته لیوالتیا ښــایي. کله چې اړتیا وي کاروم یې(۱۱,۱٪)جوړوي. هیڅ یې نه کاروم (۵,۶٪) چې دا استادان دې ټکنالوژي ته دومره لیولتیا نه ښکاره کوي.

### ۷. دChatGPT تدریسي موادو په چمتو کولو کې مرسته کوي.





(۷.۴) شکل :د ۷ پوښتنې تحلیلي چاټ

د پوهنتون د اســـتادانو ترمنځ د ChatGPT ټیکنالوژی ته مثبت تمایل موجود دی، په ځانګړې توګه د تدریسي_ موادو په چمتو کولو کې. (۳۳,۳٪) اســـتادان کلکه موافق دي او (۳۳,۳٪) موافق دي چې دا وسیله د تدریسي-موادو تولید اسانه او مؤثره کوي، چې دا د ټیکنالوژۍ پراخ منل او د هغې پر ګټورتیا باور ښیي. په همدې حال کې،(۲۷,۸٪) استادان لږ موافق دي، چې ښایي د ټیټې تجربې یا د شک له امله وي. یوازې (۵,۶٪) استادان یې له کارونې سره موافق نه دي.

### ۸. ChatGPT کارول د تدریس په چاپیریال کې بدلون راولي.

ددې پوښتنې هدف دا دی چې ChatGPT به دتدریس چاپیریال بدل کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




(۸.۴) شکل: د ۸ پوښتني تحلیلي چاټ

شـاوخوا (۷۸٪) اسـتادان یا خو په کلکه موافق یا موافق دي چې دا ټیکنالوژي د تدریس چاپیریال ته د پام وړ بدلونونه راولي.

سره له دې، شـــاوخوا (۲۷,۸٪) اســـتادان یوازې لږ موافق دي، چې ښـــایي د ټیکنالوژۍ د محدودې تجربې، د بدلونونو په وړاندې د مقاومت، یا د اغېزمنتیا په اړه د ځینو شکونو ښکارندويي وي


یوازې (۵,٦٪) استادان مخالف نظر لري، چې دا د ټیکنالوژۍ د پراخې منني نښه ده، خو همداراز ښيي چې د دودیزو تدریسي ـ طریقو ملاتړي لا هم شـته، چې د هغوی د ښـکېلتیا لپاره ځانګړې تګلارې ته اړتیا ده.

په ټوله کې، دا تحلیل څرګندوي چې ChatGPT د تدریسي ـ چاپېریال په بدلون او عصرـي کېدو کې یوه مؤثره او نوښت راوستونکې وسیله ده.

### ۹. ChatGPTبه د تدریس کیفیت لوړ کړي.

ددې پوښتنې هدف دا دی چې ChatGPT به د تدریس کیفیت لوړ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




(۹.۴) شکل :د ۹ پوښتني تحليلي چاټ

د پوهنتون د استادانوځخه ، شاوخوا (۳۸,۹٪)،په کلکه موافق دي او (۳۳,۳٪) موافق دي او باور لري چي ChatGPTکولی شي د تدريس کيفيت لوړولو، د تدريسي– موادو چټک چمتو کولو، او د زده‌کوونکو د پوهي د ترلاسه کولو په برخه کې مهم رول ولوبوي سره له دې، يو شمېر استادان چي شاوخوا (۱٦,۷٪) يې لږ موافق دي، ښيي چي د ټيکنالوژۍ د عملي کاروني په برخه کې لا هم ځينې اندېښني يا محدود تجربې لري. همداراز، (۵,٦٪) استادان د دې نظر سره مخالف دي.


په ټوله کې، دا پايله څرګندوي چي ChatGPT د تدريس کيفيت لوړولو لپاره يوه ارزښتناکه، مؤثره، او نوښت‌راوستونکي وسيله ګڼل کيږي، چي د پوهنتون د تعليمي چاپيريال د عصري کولو لپاره پراخ امکانات لري. د دې ټيکنالوژۍ د اغېزناکې استفادې لپاره اړينه ده چي پوهنتون د استادانو مهارتونه نور هم لوړ کړي، هغوی ته دوامداره روزنه، تخنيکي ملاتړ، او مسلکي لارښووني برابرې کړي، تر څو ټول استادان وکولی شي د دې نوې ټيکنالوژۍ له پوره ظرفيت څخه ګټه واخلي.

### ۱۰. ChatGPTبه په راتلونکي کې د تدريس مهمه برخه وي.

ددې پوښتني هدف دا دی چي وښايي به په راتلونکي کي د تدريس مهمه برخه وي .

ChatGPTبه په راتلونکي کې د تدريس مهمه برخه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




(۱۰.۴) شکل: د ۱۰ پوښتنې تحلیلي چاټ

د سـيد جمال الدين افغاني پوهنتون اسـتادانو د ChatGPT ټيکنالوژۍ په اړه نظرونه په عمومي توګه مثبت دي او دا ټيکنالوژي د تدريسي ــ بهير لپاره يوه مهمه او نوښتګره وسيله بولي. شـاوخوا (۶۱٪) استادان په کلکه يا نسبي ډول د دې باور لري چې ChatGPT به د تعليمي چاپيريال يوه اساسي برخه شي، چې دا د ټيکنالوژۍ په وړاندې د دوی د پرانیستې ذهنيت او د نوښت منلو څرګندونه کوي. په همدې حال کې، نږدې (۲۲٪) استادان لږ موافق دي، چې دا شايي د ټيکنالوژۍ د اغېزناکې کارونې په اړه د لا زياتې پوهې او تجربې نشتوالی يا ځينې احتمالي انديښنې څرګندوي. سربېره پردې، (۱۱٪) استادان مخالف دي چې دا د نوې ټيکنالوژۍ په وړتياوو کې د شک يا د ټيکنالوژۍ په چټک بدلون کې د بې‌ثباتۍ نښه ده.


له دې ځخه ښکاري چې سره له دې اکثريت استادان د ChatGPT په راتلونکې کې د تدريسي بهير د يوې مهمې وسيلې په توګه مثبت نظر لري.

## ۱۱. ChatGPT به د دوديزه تدريسي طريقه په نوي عصري طريقه بدله کړي.

ددې پوښتنې هدف دا دی چې معلومه شي دوديزه طريقه غوره ده او که عصري طريقه:

ChatGPT به د دوديزې تدريسي طريقه په نوي عصري طريقه بدله کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




(۱۱.۴) شکل: د ۱۱ پوښتنې تحلیلي چاټ

نږدې (٦٦,٦٪) اســتادان یا خو په کلکه موافق یا موافق دي، چې دا د هغوی د ټیکنالوژۍ پر وړاندې پرانســتې ذهنیت، د نوښــت منلو چمتووالی، او د عصرـي تدریسي ـ میتودونو د جذب څرګندونه کوي. دوی ChatGPT د تدریس په بهیر کې د یوه نوي ملګري، لارښود او اسانتیا برابروونکي په توګه ګوري چې کولای شي د زده‌کړې کیفیت او موثریت لوړ کړي.

له بلې خوا، شــاوخوا (١٦,٨٪) اســتادان لږ موافق دي، چې ښــایي د نوې ټیکنالوژۍ د کارونې لپاره لا زیاتو زده‌کړو، تجربو، او تخنیکي اسانتیاوو ته اړتیا لري.


سربېره پردې، شاوخوا (١١,١٪) استادان د دې نظر مخالف دي.

## ۱۲. ChatGPT به په راتلونکي کې د تدریس طریقه بدله کړي.

ددې پوښتنې هدف دا دی چې د تدریس طریقه به په دودیز میتود پاتې شي او که بدله به شي.

ChatGPT به په راتلونکي کې د تدریس طریقه تر کوم حده پورې بدله کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




(۱۲.۴) شکل: د ۱۲ پوښتنې تحليلي چاټ

شاوخوا (۴۷,۱٪) استادان باور لري چې ChatGPT به د تدريسي طريقو بشپړ بدلون راولي، او (۳۵,۳٪) نور فکر کوي چې دا بدلون به تر يوې کچې اغېزمن وي.

يوازې (٦٪) اســتادان فکر کوي چې بدلون به لږ وي، او هېڅ يو اســتاد د دې ټيکنالوژۍ د بېاغېزې په اړه نظر نه لري، چې دا د استادانو تر منځ د ټيکنالوژۍ د منلو او پر هغې د باور ښکارندويي کوي. خرگندونه ده.


دا بدلون به په ځانګړې توګه د تدريسي-موادو په چمتو کولو، زده‌کوونکو ته د پوښـتنو په ځواب ويلو، او د تعليمي سرچينو په اســانولو کې مثبت اغېز ولري. د دې ترڅنګ، اســتادان په پوهه او علاقه څرګندوي چې د تدريس بهير د پرمختللو هوښيار ټيکنالوژيو لکه ChatGPT په مرسته نوې بڼه مومي.

**۱۳. علمي اداري او پالیسي جوړونه**

ددې څخه هدف دا دی چې په کوم ډول ChatGPT په علمي ادارو کې وکارول شي.

آيا علمي ادارو ته پکار ده چې د زده کړې د کيفيت لوړولو او تعليمي سيستم د پرمختګ لپاره، د مصنوعي ځيرکتيا ChatGPT د کارونې لپاره مشخصې پاليسي او واضحې لارښوونې جوړې کړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library




(۱۳.۴) شکل: د ۱۳ پوښتنې تحلیلي چاټ

د اســـتادانو د ځوابونو له مخې، ټول ګډونوال (۱۰۰٪) پر دې اتفاق لري چې د مصــــنوعي ځیرکتیا، په ځانګړې توګه ChatGPT ، د کارونې لپاره باید پوهنتون مشخصې پالیسۍ او واضحې لارښوونې جوړې کړي. دا بشپړ توافق ښیي چې ا ستادان ټیکنالوژي یوازې د ا سانتیا په توګه نه بلکې د تعلیمي سیستم د کیفیت د لوړولو مهم وسیله ګڼي.

اســـتادان په دې باور دي چې که د ChatGPT کارونه منظم او تنظیم نه شي، نو کېدای شي په تعلیمي معیارونو کې ګډوډي، اخلاقي ستونزې، او د زده کړې په شفافیت کې مشکلات رامنځته شي. له دې امله دوی ټینګار کوي چې باید یو روښانه او قانوني چوکاټ رامنځته شي، چې پکې د ChatGPT د کارولو حدود، د زده کوونکو د مسؤلیتونو کچه، او د ا ستادانو رول او مسؤولیتونه په وا ضح ډول تعریف شوي وي.


دغه علمي تحلیل په ګوته کوي چې د ټیکنالوژۍ اغېزناکه او مســـؤلانه کارونه د تعلیمي نظام د پیاوړتیا لپاره حیاتي دي، او پرته له مناســـبې کنټرول او پالیســـۍ څخه، د ټیکنالوژۍ کارونه ښـــایي ناوړه پایلې ولري. له دې امله، د پوهنتونونو د ادارو لپاره اړینه ده چې د ChatGPT د کارونې روښـــانه قواعد او روزنیز پروګرامونه جوړ کړي ترڅو هم د کیفیت ډاډ ترلاسه شي او هم د تعلیمي ارزښتونو ساتنه وشي.

**۱۴.د پالیسي د جوړولو ضرورت.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددي پوښتني څخه هدف مو د علمي ادارو کي د ChatGPT د کاروني په اړه دپالیسي جوړول دي.

که ستاسو پورتنی پوښتنې ځواب هو وي نو تر کومه حده پورې ضرورت ده چې پالیسي جوړه **شي**




(۱۴.۴) شکل: د ۱۴ پوښتنې تحلیلي چاټ

د سـید جمال الدین افغاني پوهنتون د اسـتادانو له نظرونو څخه څرګندیږي چې د ChatGPT او ورته مصنوعي ځیرکتیا ټیکنالوژیو د مسؤلانه او اغیزمنې کاروني لپاره د مشخصو، رو ښانو او عملي پالیسیو جوړول یو حیاتي ضرورت ګڼل کیږي.

تقریباً نیمایي (٪۵۰) اسـتادان باور لري چې دا پالیسۍ باید هر څومره ژر چې ممکنه وي جوړه شي ترڅو د دې نوې ټیکنالوژۍ کارونه په منظمه توګه تنظیم او د تعلیمي بهیر کیفیت خوندي او لوړ شي.

شاوخوا (٪۴۴,۴) ا ستادان د پالیسی جوړول ګټور بولي، خو اوس یې بیړنۍ اړتیا نه ګڼي او فکر کوي چې د اوسني حالت ارزونه او مرحله ایز پلان مناسب دی.


یوازې یو لږ شـمیر اسـتادان (٪۵,٦) د پالیسۍ جوړولو ته په اوس وخت کې اړتیا نهویني، خو په راتلونکي کې یې احتمال مني.

هیڅ استاد داسې نظر نه دی ورکړی چې د ChatGPT لپاره پالیسی جوړول ضروري نه دي

**۱۵. ستاسو په نظر ChatGPT او تعلیمي اکاډمیکي اداري څنګه د زده کړیز سیستم لپاره ګټور کیدلی شي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددي پوښتني هدف د ChatGPT ګټه ښايي.




(۱۵.۴) شکل: د ۱۵ پوښتنې تحلیلي چاټ

| د استادانو شمیر | د استادانو فیصدي | ګټه/فعالیت |
|---|---|---|
| 9 | 50% | سوالونه ژر ځوابوي |
| 9 | 50% | زده کړه اسانه کوي |
| 7 | 38.9% | معلومات ژر پیدا کوي |
| 6 | 33.3% | لیکنه کې مرسته کوي |
| 6 | 33.3% | ژباړه کوي |
| 10 | 55% | د څیړنو لپاره مرسته کوي |

(۱,۴) اول جدول

تر ټولو لوړه فیصـــدي (۵۵٪) اســـتادان باور لري چې ChatGPT د علمي څېړنو لپاره ډېر ګټور دی. دا څرګندوي چې استادان دغه وسیله د څېړنې، مقالې لیکلو، سرچینو موندلو او د نظریاتو پراخولو لپاره یو ارزښتناک او موثر وسیله ګڼي. په دې توګه، ChatGPTنه یوازې د تدریس بلکې د څېړنیزو فعالیتونو د کیفیت، سرعت، او ساینسي محتوا د لوړولو لپاره هم ستر فرصت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نږدې نیمایي استادان (٥٠٪) په دې باور دي چې ChatGPT کولی شي سوالونه ژر ځواب کړي او زده کړه ا سانه کړي، چې دا د زده کوونکو لپاره د متقابل، لاسرسي لرونکي او چټکې زده کړې یوه مهمه بڼه ده. دا د تدریس د دودیزو طریقو په پرتله د زده کړې د چټکتیا او اغیزمنتیا په برخه کې یو مثبت بدلون دی.

(٣٨,٩٪) اســتادان دا وســیله د معلوماتو په چټک موندلو کې ګټوره بولي، چې په ځانګړې توګه د معلوماتي سرچینو د کمښت په شرایطو کې یوه عملي او بدیل لاره برابروي.

همدارنګه، (٣٣,٣٪) اسـتادانو یادونه کړې چې ChatGPT په لیکنه او ژباړه کې مرسـته کوي، چې دا د درسي موادو په چمتو کولو او د څو ژبو ترمنځ د محتوا په تبادله کې د پوهنتون د علمي فعالیتونو د پراختیا لپاره خورا مهم دی.

په ټوله کې، دغه پایلې ښـیي چې اسـتادان د ChatGPT ټیکنالوژي د یو څو اړخیز، هوښـیار او متقابل تعلیمي همکار په توګه ګڼي، کوم چې کولی شي د پوهنتون د زده کړو کیفیت لوړ کړي، د تدریسي ـ او څېړنیزو موادو چمتووالی چټک او مؤثر کړي، او د ژباړې او علمي اړیکو پراخېدو ته زمینه برابره کړي. دا څرګندوي چې پوهنتون باید په دې نوې ټیکنالوژۍ باندې پانګونه وکړي او د هغې د اغیزمنې استفادې لپاره مناسبه پالیسي او روزنیز پروګرامونه جوړ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځم څپرکی

## مناقشه (Conclusion)

دا څېړنه هڅه کوي چې دا درک شي چې د مصنوعي ځيرکتيا له منځه راوتې يوه عصري وسيله، يعنې ChatGPT، څنګه د يوه محدود، خو پوهنتون فعا له زده‌کړه‌ييز بهير چاپېر يال اغېزمنوي. د څېړنې موندنې روښانه کوي چې دا ټيکنالوژي نه يوازې د زده‌کوونکو لپاره مرستندويه ثابته شوې، بلکې استادانو ته هم د تدريسي موادو جوړولو، وضاحت ورکولو او څېړنيزو کارونو کې يو ګټور وسيله ګرځېدلې دی. د زده‌کوونکو له نظره، ChatGPT د تمرينونو حل، محتوا چمتو کولو، ژباړې او مقالې ليکلو کې د پام وړ مرسته کوي. اکثره زده‌کوونکو ويلي دي چې دې وسيلې ډېرې ستونزې ورته آسانه کړې دي، خو ځينې دا اندېښنه هم لري چې له دې زيات کار اخيستل کولی شي د دوی فکري خپلواکۍ ته زيان ورسوي. دا هم يادونه شوې چې ځينې ځوابونه يې نا سم يا بې وضاحته وي، چې دا خبره د دې اړتيا ښيي چې زده‌کوونکي بايد فکر، تحليل او ارزونه زده کړي، نه دا چې يوازې پر يو چټک ځواب تکيه وکړي.

استادانو هم دا وسيله د تدريس په کيفيت کې يو مثبته مرسته بللې ده. هغوی باور لري چې ChatGPT کولی شي د درسي موادو چمتو کولو، مفاهيمو روښانه کولو او حتی د محصلينو د فکري سطحې د لوړولو لپاره وکارول شي، خو د دې تر څنګ دا هم يادوي چې بايد د استاد لارښونه او انساني تشريح هېره نه شي. ChatGPT يوازې يوه مرسته ده، نه د تدريس بديل. همدارنګه، د سرغړونو، کاپي‌پېسټ او علمي بې‌صداقتي اندېښنه هم مطرح شوې، چې ښوونځي او پوهنتونونه بايد ورته اخلاقي اصول او واضح تګلارې ولري. دا هم په ډاګه شوې چې په اوسني وخت کې د ټکنالوژۍ پراخ پرمختګ ته په کتو، دا وسايل د افغانستان په څېر هغو ځايونو کې چې درسي منابع محدود وي، ډېر فرصتونه رامنځته کولای شي، خو دا يوازې هغه وخت امکان لري چې د فکر، اخلاقي چوکاټ او مسؤليت له مخې وکارول شي. له همدې امله، د څېړنې ګډونوالو ټولو ټينګار کړی چې بايد د پوهنتون ادارې لخوا واضح پاليسۍ او روزنيز پروګرامونه جوړ شي، ترڅو هم د وسايلو کارونه مديريت شي او هم زده‌کوونکي د علمي اصولو سره اشنا شي.د نړيوالو علمي څېړنو له پايلو سره پرتله ښيي چې زموږ محلي پايلې نه يوازې تاييد شوې، بلکې يو نوی واقعي انځور يې وړاندې کړ. په پايله کې، ويلای شو چې ChatGPT که سم وپېژندل شي ، او د فکر او اخلاقو ترڅنګ وکارول شي، نو کولی شي د پوهنتون زده‌کړې کيفيت بدل‌ای، عصري او اغېزمن کړي. دا وسايل نه بايد د انسان پر ځای وکارول شي، بلکې د انسان له خوا، د انسان د ښه کولو لپاره وکارول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ChatGPT د زده کړې پر کیفیت اغېزې:

ChatGPT د زده‌کوونکو په زده‌کړه کې مرستندویه دی، خو شک یې څرګند کړی چې دا وسیله به د تدریس کیفیت لپاره یو مکمل بدیل شي که نه. (Brown et al. (2023).

زمونږ څېړنې دا نظریه لا نوره غښتلې کړه، ځکه چې له ٪۹۰ زیات محصلین ChatGPT یوه مؤثره مرسته کوونکې وسیله بولي، خو تر څنګ یې دا اندېښنه هم شته که بې حده تکیه پرې وشي، نو فکري خپلواکۍ ته شاید زیان ورسوي. همداراز، په عمومي نظر کې، محصلین دا د زده‌کړې لپاره یوه غوره سرچینه بولي، نه د استاد د ځایناستې وسیله.

## د ChatGPT پواسطه عصري تدریس

ChatGPT د تدریس لپاره نوي دروازې پرانیزي، خو د انساني لارښود پرته یې استفاده نیمګړې ګڼي.

(*Dwivedi et al*. (2023)

زمونږ په څېړنه کې ستونزې او فرصتونه دواړه تایید شول. ا ستادان ټینګار کوي چې باید د ذهن روزنه هم دوام وکړي. دا ښیي چې د ChatGPTکارونه باید له دودیز تدریسي میتود سره وکارول شي.

## د ز ده کړو په برخه کې دChatGPT اغیزې

ChatGPT کولی شي د اکاډمیک اصولو ته ګواښ پېښ کړي، او دا اړتیا رامنځته کوي چې پوهنتونونه نوې پالیسي او روزنیز چوکاټونه رامنځته کړي. (*Zhai, X*. (2023)

زمونږ په څېړنه کې دا ټکی ډېر ښه واضح شوی دی. استادانو ٪۱۰۰ موافق دي چې پالیسۍ باید موجودې وي او ٪۵۰ ټینګار کوي چې باید ژر تر ژره عملي شي. پوهنتونونه باید عملي ګامونه واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپږم څپرکی

# نتیجه گیري

دا څېړنه دا څرگندوي چې ChatGPT کولی شي د زده‌کړې په بهیر کې یو اغېزناک بدلون راولي. د محصــلینو او اســتادانو نظرونه ښــيي چې دا وســیله د تمرینونو حل، لیکلو، ژباړې، تحقیق، او د درسي مفاهیمو د وضاحت لپاره ډېره گټوره ده. محصلین دا وسیله چټکه، آسانه او ارزانه بولي، خو دا هم وایي چې ځینې ځوابونه یې ضعیف یا ناسم وي، نو اړتیا ده چې پوهه او تحلیل هم ورسره وي.

استادانو هم دا وسیله د تدریسي موادو په برابرولو، د زده‌کوونکو د فعالیتونو په ارزیابۍ، او د درسونو په ښه وړاندې کولو کې مرسته کوونکې بللې ده. هغوی ټینگار کوي چې باید دا وسیله د تفکر، تحلیل، او نوښت سره یوځای وکارول شي، نه دا چې پر ځای یې تکیه وشي.

د څېړنې له مخې، که چېرې دا وســیله پرته له اخلاقي اصــولو، علمي پالیســۍ، او روزنیزو برنامو وکارول شي، نو ښــایي د فکري خپلواکۍ، علمي صــداقت او زده‌کړې پر کیفیت منفي اغېزه وکړي. له همدې امله، اســتادان او محصــلین دواړه باوري دي چې پوهنتون باید د ChatGPT د کارولو لپاره مشــخصــې لارښوونې او معیارونه جوړ کړي.

په پای کې ویلای شو چې ChatGPT یوه گټوره، نوې او هوښیاره وسیله ده، خو هغه مهال به د زده‌کړې لپاره مثبتې پایلې ولري چې له انساني فکر، مسؤلانه کارونې، او علمي لارښونو سره یوځای وکارول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## وړاندیزونه

**اخلاقي چوکاټ او پالیسۍ جوړول:**

پوهنتونونه او تعلیمي اداري دې د ChatGPT او نورو مصنوعي ځیرکتیا وسایلو لپاره واضح اخلاقي اصول او پالیسي ګانې ترتیب کړي ترڅو د ناسم کارونې او سرقې مخه ونیول شي.

**روزنیز ورکشاپونه او کورسونه:**

د ټیکنالوژۍ د مؤثرې کارونې لپاره دې ځانګړي روزنیز ورکشاپونه او کورسونه جوړ شي ترڅو استادان او محصلین له دغو وسایلو په ښه توګه استفاده وکړي.

چې تر ټولو مهم کورس عبارت دی له Prompt Engineering څخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماخذونه


OpenAI.com

Brown, P., Smith, J., & Taylor, R. (2023). The Role of AI in Education: Benefits and Challenges of ChatGPT in Learning Environments. *Journal of Educational Technology*, **45**(2), 112-130.

Johnson, R. (2021). Impact of AI on Student Learning Autonomy: Are Students Becoming Dependent on AI Tools? *Educational Review*, **52**(3), 199-215.

Aljanabi, A., Mahyoob, M., & Alshahrani, M. (2023). The impact of ChatGPT on students' learning experience. *Education and Information Technologies*.

Dwivedi, Y. K., et al. (2023). So what if ChatGPT wrote it? Multidisciplinary perspectives on opportunities, challenges and implications of generative conversational AI for research, practice and policy. *International Journal of Information Management*, **71**, 102642.

Pawar, P. P., Salve, K. B., & Patil, R. R. (2023). *Impact of ChatGPT on student's education: A comprehensive analysis of positive and negative effects*. Journal of Advanced Zoology, **44**(S8), Article 3504.

Montenegro-Rueda, M., Fernández-Cerero, J., Fernández-Batanero, J. M., & López-Meneses, E. (2023). *Impact of the Implementation of ChatGPT in Education*: A Systematic Review. *Computers*, **12**(8), **153**.

Méndez-Domínguez, R., Bolaños-Moraga, A., & Vargas-Quesada, B. (2024). ChatGPT in education: Does it improve learning or affect educational quality? *LEIRD 2024 Proceedings*, 1(1), 621.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(2023). *What is the impact of ChatGPT on education? A rapid review of the literature*. *Education*, MDPI.

Impact of ChatGPT on learning motivation: Teachers and students' voices. (2023).

Impact of ChatGPT on education: Challenges and opportunities. (2023).

Impact of ChatGPT on ESL students' academic writing skills: A mixed methods intervention study. (2024). *Smart Learning Environments, 11*(9).

*The impact of ChatGPT on learning in higher education – Results of a pilot study*.

Herrera, H. (2024). *ChatGPT in the classroom: Boon or bane for physical students' academic performance?* Unibague University.

Use ChatGPT in Teaching and Learning: Opportunity and Challenge. (n.d.). *ASBR*.

ChatGPT: The cognitive effects on learning and memory. (n.d.). *Creative Commons*. Retrieved from

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**